# دافغانستان داساسي قانون
## دتدوين بهير

دافغانستان داساسي قانون دكميسيون ددارالانشاء له خوا:

د ۱۳۸۱ كال دحوت دمياشتې ۱۹ (۲۰۰۳ كال دمارچ ۱۰ ) نيټه

# فهرست


| سرليکونه | صفحې |
| --- | --- |
| ۱ـ داساسي قانون د تدوين خرنگوالي ته لنډه کتنه | ۱ |
| ۲ـ داساسي قانون دکميسيون ونډه | ۵ |
| ۳ـ ددار لانشا ونډه | ۶ |
| ۴ـ دعامه پوهې لوړوالی | ۸ |
| ۵ـ دعمومي سلا مشورو اخيستنې بهير | |
| ٦ـ داساسي قانون لويه جرگه | ۱۰ |
| ۷ـ دملگرو ملتو مرسته | |
| ۸ـ مهال ويش / دکار پلان | ۱۱ |

## داساسی قانون دتدوین څرنګوالي ته لنډه کتنه :

په افغانستان کې داساسي قانون تدوین دملت دهوسایني او دهیوادوالو په بهیر کې یو مهم ګام دی. دافغانستان خلک له جګړې څخه ستړي شوي اوسولې ته تږي دي . داساسي قانون دتدوین بهیر به دلومړي ځل لپاره دافغانستان خلک په فعال ډول دسولې او د دوی درا تلونکي اساسي قانون په لور دیوې ګډې طرحې رامنځ ته کولو جریان ته ورسم کړي . دا فغانستان اسلامي ا نتقالي دولت داساسي قانون دتدوین لپاره د داسې بهیر په با ب ژمنه لري چې دټولنې ټول اقشار یکې راټول وي اودملي پیژند ګلوۍ حس پیاوړی کړي . ا وپه پایله کې داسې یوسند رامنځ ته کړي چې ټول افغان ملت ته دمنلووړوي . نوموړې ژمنه دیوه جامع بهیر دتطبیق په برخه کې ، دبن دپریکړه لیک له ګټو سره مطابقت ولري ا و په ځانګړي ډول له دې ا صل سره چې : ( دافغانستان خلک حق لري چې په خپلواک ډول خپل راتلونکی برخلیک اوسیاسي نظام د اسلام دسپیڅلي دین ، دیموکراسی ، ټولنیز عدالت او کثرات ګرائی ( ګڼ پالنې) په رڼا کې وټاکي .)

دبن په پریکړه لیک کې راغلي چې یونوی اساسي قانون باید داساسي قانون دلوئې جرګې له خوا چې دانتقالی اداری ترتاسیس ۱۸ میاشتې وروسته جوړیږي ، تصویب شي. پریکړه لیک څرګندوي چې د اساسي قانون یوکمیسیون (کمیسیون) باید دانتقالي دولت له خوا ، او دملګرو ملتونو په مرسته رامنځ ته شي. ا وپردې مساله هم موافقه شوې ده چې " دیوه بشپړ استازي حکومت" لپاره دې آزاد او مناسب انتخابات دبیړنۍ لوئې جرګې دجوړیدو له نیټې څخه (دجوزا دمیاشتې ۹) دوه کاله وروسته ترسره شي . ددې موضوع په له پام کې نیولو سره چې انتخابات باید دنوي اساسي قانون په رڼاکې ترسره شي نودغه نوی اساسي قانون باید دانتخاباتو تر پیل وړاندې نافذ شي .

همدا ار ښتیې څرګند ه کړو چې دافغانستان داساسي قانون دتدوین بهیر دبن دپریکړو دبریالیو عملي کولو لپاره ځانګړی اهمیت لري .

داساسي قانون دتدوین بهیر ددغو دریو ارګانونوله خوا په لاندې ډول ترسره کیږي :

- دتسوید کمیسیون ( " تسویدکمیسیون ") .
- داساسي قانون کمیسیون ( " کمیسیون ") .
- داساسي قانون لویه جرگه (" CLJ ") .

دارالانشا به ددریو یادوشویو ارگانونو دفعالیتونوملاتړکوي، دارالانشا داساسي قانون دتسوید کمیسیون ته په اداري او لوژستیکي برخوکې لازمي مرستې برابرې کړې دي چې بنسټیز چارې دېنه تر سره کوي. نېژده به دکمیسیون له پراخیدو سره یو ځای ددارالانشا په جوړښت کې هم پراختیا راشي . نړیواله ټولنه به دملګرو ملتونو په مشرۍ له دارالانشا اوداساسي قانون دتدوین له هر یوه ارګان سره بشپړه د هماهنګي ولري ځودا ډاډ ترلاسه شي چې داساسي قانون دتدوین ډبهیر هر پړاو دلازمو مادي اوفني مرستوڅخه برخمن دی چې په نتیجه کې یې داساسي قانون دتدوین بهیرپه بریالۍتوګه بشپړیږي .

## داساسي قانون دتسويد کميسيون :

داساسي قانون دتسويد کميسيون ددولت درنيس دفرمان له مخې د 1381 کال د ميزان په ديارلسمه (2002کال داکتوبر په پنځمه) نيټه وټاکل شو چې (9) کسه غړي لري. اوپروفيسور نعمت الله (شهراني ) ددولت درئيس مرستيا ل ددې کميسيون درنيس په توګه وټاکل شوی دی . داساسي قانون دتسويد دکميسيون مسووليت دادی چې داساسي قانون يوه ابتدائي مسوده ترتيب کړي. دا مسوده به داساسي قانون دترتيب په برخه کې داساسي قانون دکميسيون لپاره د سپارښتونو ديوې مجموعې په توګه کار ورکړي. دتسويد کميسيون به ابتدائي مسوده له خپل راپور اوسپار ښتونوسره يوځای دکميسيون دپر انيستلوپه ورځ کميسيون ته وسپاري .

## داساسي قانون کميسيون

کميسيون به تقريباً(30) تنه غړي ولري چې له ګڼو مشورو وروسته به ددولت درنيس له خوا وټاکل شي . همدارازدکميسيون رئيس دکميسيون دغړو له منځه ددولت درنيس له خوا ټاکل کيږي . دنوموړي کميسيون ا صلي مسوليت دادی چې دافغانستان له خلکو سره له پوره سلامشورو وروسته داساسي قانون مسوده د 1382 کال د سنبلې په اتمه (2003 کال داګست په 30 ) نيټه چمتو اوداساسي قانون لويې جرګې ته يې داکتوبر په مياشت کې وروسپاري . داکميسيون دغه دندې لري:

- داساسي قانون دمسودې تهيه اوطبع .
- دکاردمودې په اوږدوکې دمسودې دتدوين په هکله دعامه پوهې د سطحې لوړول او په دې لارکې داسانتياوو برابرول .

- دافغانستان په ټولو ولایتونو ایران او پاکستان او دامکان په صورت کې په نورو هیوادونو کې دمیشتو افغانانو په منځ کې دعامه سلا مشوروترتیبول ددې لپاره چې دافغانستان دخلکو نظرونه او افکار داساسي قانون دځرنګوالي په هکله څرګند او راغونډ شي .
- دهیواد په دننه او بهر کې دهغو اشخاصو او ډلوڅخه د لیکل شویو اسنادو تر لاسه کول چې غواړي داساسي قانون له بهیرسره مرسته وکړي .
- داساسي قانون دمسودې په باب داختیاري ورانديزونو دمطالعې پرمخ بیول .
- دداسې یو بشپړ ریپوټ چمتوکول چې دعامو سلامشورو په لړکې دافغانستان دخلکو راټول شوي نظرونه په کې تحلیل شوي وي. او بیا وروسته خلکوته ددغه ریپوټ وررسول .
- دافغانستان په ولایتونو ، همداراز په ایران او پاکستان کې د خلکو دبیا لیدوکتو پر مهال داساسي قانون پرمسودې باندې دهغوی پوهول .

کمیسیون داساسي قانون دتدوین په ټول بهیر کې دښځو دبراخې برخې اخیستنې لپاره لاره هواروي کمیسیون چې (۹) تنه غړي لري (۲) تنه یې ښځې دي . اودښځوشمیربه دکمیسیون له تشکیل سره سم زیات شي ، ښځینه کمیشنرانې به دعنعنوي حساسیتونو په نظرکې نیولو سره په ځینوسیموکې دښځو دعامو سلا مشورو دګروپونو مشري په غاړه لري همدارنګه کمیسیون به دخپلوسیمه ییزو اوولایتي مامورینو له لارې عامو خلکو ته تعلیمي پروګرامونه جوړکړي تر څو ښځې او نور ګروپونه داساسي قانون دجوړولوپه بهیر کې دښځو د ونډې پر ضرورت باندې پوه کړي . همداراز دغه مامورین له کمیسیون سره دلیدنو کتنومناسب ځای،مهال،او ځرنګوالی ټاکي. کمیسیون په پوره پام دښځو دچاروله وزارت سره کارکوي چې دغه وزارت لهUNIFAM سره یوځای دښځو داساسي حقونو په اړه دنظریاتو په راټولولو ،دسیمینارونو په جوړولو اونورو روزنیزوچاروبوخت دي . همداراز کمیسیون دمدني ټولنې له هغو موسسوسره چې دښځو په چاروکې هم کارکوي اړیکي ساتي چې له خپلودغو اړیکو څخه لاس ته راغلې پایلې کمیسیون ته سپاري. په سیمه ییزومشورتي ټیمونو کې دجنسیت توازن ساتل دلومړی توب ځای لري .

## داساسی قانون لویه جرگه :

داساسی قانون لویه جرگه چې موخه(هدف) یې دافغانستان داساسي قانون پرسردتوافق ترلاسه کول دي ، باید دافغانستان دولس بشپړ استازیتوب وکړای شي ددغې لویې جرگې دنده داساسي قانون څېړنه او تصویب ده . داساسي قانون لویه جرگه دمیزان (اکتوبر) په میاشت کې جوړیږي اود1382 کال دعقرب دمیاشتې په دریيمه (2003 کال داکتوبر په25 ) نیټه خپل کار بشپړوی . داساسي قانون متن به وروسته خپور او په پراخه پیمانه وویشل شي ،

## داساسی قانون دکمیسیون ونده :

داکمیسیون د 1382 کال د حمل (2003 کال داپریل) په میاشت کې پرانستل کیږي دکمیسیون غړي به په بیلابیلو پوهنیزوځانگو کې دزدکړولوړي درجې اومعتبراسناد لري او دهیواد له بیلابیلو قشرونو،قومي اوجنسي ډلوڅخه به استازیتوب کوي هغوی به هڅه کوي چې دخلکو دفکرونواستازیتوب وکړی او کوشش به کوي چې په لانجمنو مسایلو کې په یوه ملي اوعامه پریکړه سره سلاشي.

دکمیسیون اودداراالانشا دکارپلان باید په لاندې پړاونوباندې وویشل شي چې کیدای شي ځینې همداوس داجرااکیدو په حال کې وي .

- تشکیلاتي پړاو ( مرحله ) : په دغه مرحله کې به کمیسیون خپل قواعد ، طرزالعمل او دکار پلان تصویب اوخپلې فرعي کمیټې به تاسیس کړي .
- دخلکو دپوهولو پړاو(مرحله) : ددې مرحلې دهماهنگۍچاري دداراالانشا له خواتر سره کیږي اوټول ملت به دکمیسیون د کار اوداساسي قانون دتدوین له بهیر څخه خبرکړي .
- دڅیړنې اوله متخصصوافرادو سره دسلامشورې پړاو : په دغه پړاو کې به دکمیسیون غړي خپلې څېړنې کوي . اوداساسي قانون دهغواختیاري اسنادواوړاندیزونوپه هکله چې دتسوید کمیسیون وړاندې کړي دي له متخصصو افرادو سره سلا مشورې کوي .

- - دعمومي سلا مشورې مرحله : - ددغې مرحلې دهماهنګۍ چارې به ددار الانشا په غاړه وي چې دهغې په ترڅ کې به دکميسيون غړي دافغانستان هر ولايت ته او همدارنګه له هيواد څخه بهر، که چيرې مناسب وګڼل شي ، سفرونه کوي.او دخلکو نظريات به راغونډوي ، او خلک به هم خپل نظريات او وړانديزونه داساسي قانون لپاره وړاندې کړي .
- درپوټ ليکلو مرحله : - په دغه مرحله کې کميشنران ددار الانشاء په مرسته هغه نظريې چې دعامه سلا مشورې په ترڅ کې تر لاسه کيږي تحليلوي.
- تسويد او دبشپړولو ( نهائي کولو ) پړاو: - په دې مرحله کې کميسيون داساسي قانون مسوده او له هغې سره جوخت خپل رپوټ تهيه کوي ، توافق پرې کوي او ددولت درئيس حضور ته يې وړاندې کوي .
- داساسي قانون دمسودې چاپ او خپرول :- په دې مرحله کې دارالانشاء داساسي قانون مسوده چاپوي او ويشي . او کميشنران هغه خلکو ته توضيح او تشريح کوي .

کميسيون دبيلابيلو قانوني موضوعاتو په هکله له کورنيو او بهرنيو حقوقي کارپوهانو سره ددوی دنظرياتو د اوريدلو په منظورمباحثې کوي . له اساسي قانون سره دتړليو مسايلو د تر لاسه کولو او خپرنې په برخه کې د کميسيون د ونډې داسانتيا له پاره ديونما (UNAMA) داساسی قانون دکميسيون، د ملاتړ يونټ داساسي قانون دتسويد له کميسيون سره مشورې کوي او داختياري (پيشنهادي ) اسنادو تر لاسه کولو دنده يې هم په غاړه اخيستې ده . همدارنګه داساسي قانون کورني او بهرني کار پوهان به له کميسيون سره داساسي قوانينو دډول ډول بيلګو څيړنه کوي .

ددغه کميسيون يوه عمده دنده له عامه خلکو او دښکيلو کليدي اړخونو سره دپراخو مشورو تر سره کول دي . د کميسيون غړي دافغانستان هر ولايت ته او همداراز ايران او پاکستان ته او دامکان په صورت کې نورو هيوادو ته هم سفر وکړي تر څو هلته له افغانانو سره سلا مشورې وکړي . همداراز په هيواد کې دننه اوله هيوا دڅخه بهر هيواد والوته به حق ورکړل شي چې کميسيون ته خپل وړانديزونه او داساسي قانون دتسويد کميسيون ته خپلې سپارښتنې راوليږي .

د ۱۳۸۲ لمریز کال دسنبلې ۸

له عمومي سلامشورو وروسته به کمیسیون داساسي قانون مسوده د ۲۰۰۳ کال دآگست په ۳۰ نیټه بشپړه او ددولت درئیس حضور ته وړاندي کړي او بیابه هغه ملت ته درسولو په نیت چاپ کړي . د کمیسیون غړی به یو ځل بیا دسپتمبر په میاشت کي دافغانستان هر ولایت ته سفرکوي چي خلک دمسودې پر محتویاتو پوه کړي . او هم هغوی ته څرګنده کړي چي څه ډول دهغوی نظرونه او سپارښتني داساسي قانون په مسوده کي په نظر کي نیول شوي دي.

## ددارالانشاء ونډه

دارالانشاء به داساسی قانون دتسوید دکمیسیون ،کمیسیون او داساسي قانون لویې جرګې ته حمایتي مرستې برابروي . داساسي قانون دتدوین د بهیر لپاره یوه اغیزمنه مستعده او په یومناسب مهال ویش برابره دارالانشاء مهمه او لازمه ده .

دپروسې ددوهم پړاو ( مرحلې ) لپاره به ددارالانشاء دندې په لاندې توګه وي :

- دکمیسیون د رئیس په مشوره دکمیسیون غړیو ته دضرورت په صورت کي دکمیسیون ترجوړیدو دمخه دلازمو معلوماتو برابرول.
- دکمیسیون دمالي چاروتنظیمول.
- دکمیسیون لپاره د منابعو او امکاناتو برابرول.
- دملګرو ملتونو دفتراو داساسی قانون کمیسیون ته دضرورت په صورت کي دمالي چارو ، دکاردپرمختګ اودفعالیتونو درپوټونو تهیه او وړاندې کول .
- ددارالانشاء دورځنیو دندو او فعایتنو څارنه .
- دکمیسیون دغونډی په هکله په ټاکلي وخت کي اطلاع ورکول اوددغي غونډې دپریکړو دبشپړ ریکارد له ساتلو څخه د ډاډ تر لاسه کول.
- دا ډاډ تر لاسه کول چي دکمیسیون ټولو غړیو دکمیسیون د غونډې دفیصلې بشپړ رپوټونه تر لاسه کړي دي .
- دکمیسیون دکار داسانتیا لپاره ددارلانشأ دنویو څانګو پرانیستل .

- دکمیسیون دکار داسانتیا له پاره دسیمه ییزو او ولایتي دفترونو پرانیستل .
- دا ډاډ ترلاسه کول چې دکمیسیون پریکړې تعقیب او عملي کیږي .
- دکمیسیون ټولوفرعي کمیټونه دلازمو مرستو برابرول.
- دکمیسیون دټولو اسنادو او اموالوثبت او دهغو دریکارد ساتل .
- ددارالانشاء د کارکوونکو داستخدام او انتظام لپاره داصولو او مقرراتو جوړول.
- دکمسیون اودملګرو ملتونوپه مشوره ددارالانشاء د اړتیا وړ کسانواستخدامول په داسې څرګنده بڼه چې جنسي او قومي برابري په کې په پام کې نیول شوې وي . او هم درقابتي مرکوله لارې غوره شوي وي .
- دارالانشأ به دکمیسیون دکار دملاتړ لپاره اداري مامورین استخدام او همدارنګه کمیسیون ته داسانتیاوو دبرابرولو په منظور به دغه لاندې څانګې پرانیزي :

- مطبوعاتي دفتراود مطبوعاتو دخارني څانګه : نوموړی دفتر به دوه منظم (Full time) - کارکوونکي ولري او درئیس لپاره چې دویاند په توګه هم کارکوي دمطبوعاتي کنفرانسونو دجوړولو زمینه برابروي همداراز نوموړی دفتر به مطبوعاتی خپرونې په منظم ډول تهیه او خپروي ، مطبوعات به څاري او خپل رپوټونه به ویاند ته سپاري او ددې لپاره چې ډیر دقیق معلومات خلکواومطبوعاتوته ورکړل شي هغه/هغې ته دمطبوعاتي ستراتیژۍ په برخه کې مشورې ورکوي .
- دعامه خبرونې څانګه : ددې څانګې کارکوونکي به داساسي قانون دتدوین د بهیر په برخه کې معلوماتي/ تعلیمي کمپاین دخلکودخبرونې لپاره تنظیموي.همداراز له مطبوعاتو اودمدني ټولنې له کارکونکو سره به په ګډه خلکو ته په پراخه پیمانه معلومات ورکوي . دعامه سلا مشورې دپروسې کارکوونکي ، دامعلومات دبیلابیلو سیمو اوولایتونو اوسیدونکوته دعامه سلا مشورې دپروسې تربیل کیدومخکې رسوي. په همدې توګه دغه دفترمسوولیت لري چې داساسی قانون دمسودې ،همداراز د منل شوي اساسی قانون یوه – یوه کاپي داساسي قانون دمتن له داسې یوه لنډیز سره چې په هغه کې ټول محتویات په ساده ژبه څرګند شوي وي ، تهیه کړي.
- څیړنه ، راپوروركول او د سندونوبرابرول : داڅانګه دنده لري چې ټولې رارسیدلې غوښتنې وڅیړي ،دموادو اواسنادودساتلو لپاره به یو کوچنی کتابتون جوړ کړی او هم دټولو غونډو

اوناستو گزارشونه ولیکي ؛ او دعامه سلا مشورودپروسې رپوټونه به تحلیلوي او راغونډوي به یې ددې ځانګې ټاکل شوي راپورتران به دکمیسیون دموضوعي کمیټو او دعامه سلا مشورو د پروسې له پاره کارکوي .

## عمومي سلا مشورې :

ددې پروسې دهماهنګۍچارې دکابل ددفتربه غاړه دې چې په بیلابیلو سیمواو ولایتونو کې به اته سیمه ییزدفترونه پرانیزي دادفترونه د خلکو دسلا اخیستنې د بهیر لپاره آسانتیاوې برابروي.

دارالانشاء به دټولو څانګو د بیاوړتیا لپاره پلانونه طرح کوي چې کارکوونکي یې وکړای شي په اغیزمنه توګه خپل کارونه پرمخ بوځي . دعامه سلا مشورو دبهیر سیمه ییز او ولایتي کارکوونکي به دلازمو زده کړو لپاره کابل ته راغوښتل کیږي چې وکړای شي په اغیزمن او منظم ډول نوموړې پروسه تنظیم او اجرا کړي .

دعامه سلا مشورو دپروګرام کارکوونکي به دهغو سیمو او ولایتونوله شرایطوسره سم چې په کې کار کوي دیوې امنیتي ستراتژۍ په جوړولوکې برخه واخلي. دژورنالستانو له پاره به هم داساسي قانون د بهیر په اړه پوهنیزورکشاپونه جوړشي چې ټول ملت ته د نوموړې پروسې په هکله ریښتوني معلومات چمتو کړای شي .

## عامه پوهونه:

دعامه پوهنې د پروګرام ونډه ځکه زيات ارزښت لري ، چې خلکوته داساسي قانون دجوړونې دبهيراو په هغه کې ددوی دونډې په هکله ريښتوني معلومات برابروي . د عامه پوهنې څانګه داساسي قانون دجوړولو دبهير په هکله خلکو ته د معلوماتو دورکولو لپاره داسې پروګرام جوړوي چې لاندې مطالب به په کې وي :

- په دې هکله معلومات چې اساسي قانون څه شی دی او څنګه کولای شي دخلکو په ورځني ژوند باندې اغيزې ولري . په همدې توګه داساسي قانون په اړه بنسټيز مسايل.
- په افغانستان کې داساسي قانون دتدوين تاريخي بهير.
- دبن پريکړه ليک او داوسني حکومت جوړښت .
- داوسني اساسي قانون دجوړولو دبهيرتشريح .
- په ياد شوي بهيرکې دخلکو د ګډون ارزښت.

نوموړی پروګرام به دامکان ترحده دټولنيزو، اقتصادي ، ژبه ييزو، مذهبي ، جنسي او روزنيزوځانګړنوټول اړخونه را ونغاړي.همداراز به دمعلولو اوبې وسه ډلوحالت ته هم پام وساتي دا کمپاين به دګټورو سلامشورودترلاسه کولو لپاره لاره هواره کړي . دعامه پوهنې د ټيمونو غړي به په بيلابيلو سيمو اوولايتونو کې خلکو ته دغه معلومات مخکې له دې چې دعامه پوهنې مرحله پيل کړي، ورسوي .

ددارالانشاء دعامه پوهنې څانګه دمدني ټولنې له کارکونکواو نورو ډلو سره اوږه په اوږه د پروګرام دتطبيق لپاره کارکوي .او هغوی ته د موادوله تهيه کولو برسيره ددغه نصاب دعملي کولو لپاره سپارښتنې او وړانديزونه چمتو کوي .

دعامه پرهونې ځانگه له کمیسیون سره په دې برخه کې مرسته کوي چې داساسي قانون دمسودې دیوهولو لپاره یو عام فهمه لنډیز جوړ کړي. دا ځانگه وروسته له دې چې لویه جرگه اساسي قانون تصویب کړي دتصویب شوي متن دیوهولو لپاره د همداسې یو لنډیزپه جوړولوکې له کمیسیون سره مرسته کوي . دیوهولو لپاره جوړشوي لنډیزونه داساسي قانون د جوړښت بنه د ساده الفاظو په مرسته بیانوي او داساسي قانون په متن باندې دعامه وگړیو دپوهولو لپاره دیوې وسیلې په توگه کار ورکوي له دغو لنډیزونو څخه به مخکې له دې چې په لویه جرگه کې داساسي قانون پرمسوده خبرې اترې وشي دجرگې دغړیو دپوهولو لپاره کار واخیستل شي. همدغه مهال چې دلونې جرگې له خوا اساسي قانون تصویب شي نود تصویب شوي متن دپوهولو لپاره به نور لنډیزونه جوړ کړای شي او په عامو خلکو به وویشل شي . مطبوعات او مدني ټولنې به داسې پروگرامونه جوړکړي چې دهغو له لارې اساسي قانون خپور شي اوداڅرگنده شي چې ټول خلک داساسي قانون په بنسټیزو منځپانگو پوهیدلي دي .

## دعامه سلا مشورو پروسه ( بهیر ) :

داساسي قانون دکمیسیون غړي دعامه سلا مشورو بهیرپرمخ بیایي چې دهغه په پایله کې دافغانانو افکار ، نظریې ،هیلې او سپارښتنې مخکې له دې چې داساسي قانون مسوده بشپړه او لویې جرگې ته وسپارل شي څرگندې شي.

دعامه سلا مشورې بهیر به دوه میاشتې وخت ونیسي چې په دې موده کې به دکمیسیون غړي دافغانستان ټولو ۳۲ ولایتونو ، ایران ، پاکستان او دامکان په صورت کې نورو هیوادونو ته سفر وکړي چې هلته له میشتو افغانانو سره سلا مشورې وکړي. دوی به هڅه وکړي چې له عامو خلکو او دټولنې له غوره شخصیتونو سره له لیدنوکتنو برسیره عام خلک دې ته وهڅوي چې داساسي قانون دمسودې په هکله خپل نظرونه سپارښتنې او وړاندیزونه په لیکلې بڼه چمتو او کمسیون ته یې وړاندې کړي . دکمسیون غړي به هڅه وکړي چې دخلکو غوښتنې داساسي قانون په چوکاټ کې ځای کړي .

دغه پروسه به داسې طرح شي چې دکميسيون او عاموخلکو ترمنځ ځانګړو سلا مشورو ته لاره هواره شي او په عين حال کې د دې مخه ونيسي چې يو شميرخاصې ډلې دغه پروسه دخپلو شخصي ګټو د تر لاسه کولو لپاره راوڅرخولای شي . دامکان په صورت کې به دغه پروسه دېرانيستو غونډو په ترڅ کې عملي شي. ددې لپاره چې په پروسه کې ګڼ شمير خلک را ګډ کړای شي او په ژوره توګه مسايل وڅيړل شي دکميسيون غړي به هڅه وکړي دخلکو ټولې پرګنې په بيلابيلو غونډو کې سره کينول شي. دا ډلې له قومي مشرانو، عالمانو ، ښځو ، داضطراري لويې جرګې غړو، سوداګرو، دپوهنتون داستادانو، مسلکي کسانو ، ځوانانو، دغيردولتي – ملي او نړيوالو مرستندويو موسسوله غړيو څخه ، عبارت دي . داړتيا او امکان په صورت کې به له نورو ډلوسره هم مشورې وشي .

دکميسيون غړي به(8) ګرځنده مشورتي ملي ټيمونه جوړکړي چې ټولو سيمو او ولايتونو ته ورسيدلای شي او په عين حال کې به يو ټيم په کابل ښارکې وي ، دکابل د ټيم غړي به ايران او پاکستان ته هم سفر کوی دارالانشا به اته سيمه ييز دفترونه جوړ کړي . د هرې سيمې منتظم (کوارديناتور) به په هر ولايت کې کارکوونکي وټاکي چې دکميسيون غړيو ته به دعامه سلامشورو په غونډو کې آسانتياوې برابرې کړي . دغه ولايتي کارکونکي به ولسواليوته هم سفر وکړي چې خلک دعامه پوهونې په پروسه خبر کړي او دکميسيون له غړيو سره به دداسې غونډوپه جوړولو کې مرسته وکړي چې دهغو په پايله کې ډاډ ترلاسه شي چې دګډو سيمو خلکو په پروسه کې ګډون کړی دی.

هر سيمه ييز دفتر به په پوره اندازه کارکوونکي اوبشپړ ارتباطي وسايل ولري چې په کابل کې له کميسيون او دارالانشاء سره منظم تماس وساتلای شي. د يوناما (UNAMA) سيمه ييزدفترونه به ددغو دفترونوله غوښتنو سره سم دامکان ترحده مرسته کوي . سيمه ييز دفترونه به داساسي قانون په هکله دمعلوماتو دخپرولو دبنسټيزو مرکزونوپه توګه فعاليت کوي او دپروسې ترختميدو پورې به هملته کارکوي.

هر دفتر به دعامه پوهونې یو کارکوونکی ولري چې داساسي قانون دتدوین دپروسې په برخه کې لازم معلومات برابر کړي . تر دې وروسته چې کمیسیون اساسي قانون بیاتسوید کړي دکمسیون مشورتي ټیمونه به ولایتونوته ورستانه شي چې اساسي قانون خلکو ته تشریح کړي او سیمه ییز دفترونه به یوځل بیا دسپتمبر په میاشت کې دې پروسې ته اسانتیاوې برابرې کړي.

دکمیسیون غړي به له اړونده دولتي کارکوونکو سره تماس ولري چې دمشورو دخوندي بهیر په باب ډاډ ترلاسه کړي . او هم به داساسي قانون دمسودې په هکله ددوی نظرونه ترلاسه کړي. پردې سربیره دکمیسیون هغه غړي چې په کابل کې پاتې کیږي دوی به له پوهانو ،اقتصادپوهانو ،او دوزارتونوله کارکونکوسره دموضوع په اړه لازمې سلا مشورې وکړي .

دکمیسیون دهرټیم لپاره به دوه راپورتران وروزل شي چې وکړای شي دغونډو دقیق گزارش برابرکړي ددې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي چې دغونډو ټول جریان بشپړ تر لاسه شوی دهرې غونډې خبرې به په فیته کې ثبتیږي . په مرکزي دفتر کې به د تحلیلوونکو یو داسې ټیم رامنځ ته شي چې له ولایتونو څخه رارسیدلي راپورونه به تنظیموي دا راپورونه دکمیسون له غړیو سره مرسته کوي چې دخلکو ملي غوښتنې تشخیص کړي او په بیلابیلو نظرونو کې رامنځته شوي توپیرونه او اختلافات د لویې جرگې تر جوړیدو مخکې په سوله ییزه او مصلحتي توگه حل کړي .

## داساسي قانون دلویې جرگې ونډه :

داساسي قانون دلویې جرگې دنده داده چې اساسي قانون تصویب او هغه ته مشروعیت وروبښي . داساسي قانون لویه جرگه به د 1382 کال دمیزان (2003 کال داکتوبر) په میاشت کې راوغوښتل شي چې داساسي قانون پر مسودې له پوره بحث وروسته هغه تصویب کړي. همدااوس په دې باندې خبرې کیږي چې دلویې جرگې دغړیودټاکلو اودجرگې دجوړلو لپاره میکانیزمونه جوړ شي . دلویو جرگو له دود سره سم به داساسي قانون لویه جرگه دافغانستان دخلکو دارادې ترټولو اوچته ښکارندویه غونډه وي چې له ټول ملت څخه به استازیتوب کوي . او په هغې کې به تر پوره

غور او څېړنو وروسته اساسي قانون تصويب شي . ددې لپاره چې ټول استازي دمسودې په هکله په خبرو اتروکې سمه برخه واخيستلای شي نولومړی به دهغوی لپاره يوه اوونۍ داسې پروګرام جوړشي چې دهغه په لړ کې به داساسي قانون دمسودې دمنځپانګو او دلويې جرګې دکړنلارې په هکله بشپړ معلومات ورکړل شي .

دلويې جرګې بهير ددې لپاره يو ډير ښه مهال دی چې دغوره ملي مسايلو په اړه په کې توافق رامنځ ته شي همدارازپه دې موده کې به په هغو اختلافاتو او لانجو هم سلا اوجوړجاړی رامنځ ته شي چې دعامه پوهونې په بهير کې او دمسودې تر خپريدو وروسته رامنځ ته شوي دي. دارالانشاء به داساسي قانون لويې جرګې ته اداري آسانتياوې برابروي .

## دملګرو ملتونو مرسته

دبن دپريکړو او دافغانستان داسلامي انتقالي حکومت دوړانديزونوله مخې ، ملګري ملتونه دافغانستان داساسي قانون دتدوين له پروسې څخه ملاتړ کوي . په دې اړه به (UNAMA) او (UNDP) په ګډه يوه داسې ملاتړې پروژه جوړه کړي چې داساسي قانون دتدوين له درې ګونوارګانونو : دتسويد کميسيون ، داساسي قانون کميسيون،لويه جرګه او دارالانشا سره مرسته وکړای شي. د پروژې له اسنادوسره سم (UNAMA) دنده لري چې کميسيون ته نړيوالې مالي او تخنيکي مرستې هماهنګې کړي. او(UNDP) به د اساسي قانون دتدوين په بهيرکې دمالي ، اداري او اجرائيوي چارو په سمبالولو کې مرسته تر سره کوی .

(UNAMA) اوبه ځانګړې توګه داساسي قانون دتدوين له کميسيون سره ملاتړه جرګه ګۍبه په منظمه توګه نړيوال مرستندويه ارګانونه،دکارونو له پرمختيا او دکميسيون له اړتياو څخه خبروي او له کميسيون سره به دمرستو د برابرولو په برخه کې اسانتياوې رامنځته‌کوي .

## مهال ویش او دکار پلان :

**ددلوې له دوولسمې ځخه دحوت تر نهمې پورې**
**(دفبر ورۍ له 1 تر 28 )**

دارالانشا دکمیسیون دملاتړ له پاره خپل تشکیلات پراخوي. دارالانشا به دلاندنیو ځانگو دجوړولو لپاره کارکوونکي استخداموي:
دمطبوعاتو د ځارنې ځانگه ، دعامه پوهونې ځانگه، دعامه سلامشورو دتر لاسه کولو ځانگه دڅیړنو، رپوټ ورکولو او داسنادودتنظیمولو ځانگه همداراز به په مالي او اداري برخو کې یو شمیر کارکونکي وگوماري . له دې پرته به دعامه سلامشورو بهیرته داسانتیاوودبرابرولو لپاره دارالانشا دملگروملتونو دسیمه ییزو دفترونو په مرسته خپلو(8) سیمه ییزو دفترونو ته یو شمیر کارکونکي وټاکی.

* دارالانشا به دخپلو کارکونکو دکاري ظرفیت دلوړولواودفتردکاري طرزالعملونو دپراختیالپاره یوروزنیز پروگرام جوړکړي . داروزنیز پروگرام به نه یوازې داچې داساسي قانون دتدوین پروسه پیاوړې کړي بلکې په راتلونکي کې به له انتخاباتي او پارلماني بهیرونو سره هم مرسته وکړي. دارالانشاء په پام کې لري چې د کارکوونکو داستخدام پر مهال قومي او جنسي توازن په نظرکې ونیول شي .

* دارالانشاء داساسي قانون دبشپړ کمیسیون دجوړیدولپاره دغه اسانتیاوې برابروي :
ددفتر لپاره دودانۍ چمتوکول ، دمنابع تهیه کولو، دکمیسیون دپرانستلو لپاره چمتوالی، له رواني پروسې سره دکمیسیون دغړیو د بلدتیا لپاره د ورکشاپ جوړول .

* دارالانشا به دکمیسیون دغړیولپاره چې دکمیسیون دچارو دترسره کولو لپاره کابل ته راځي لوژستیکي چارې لکه ترانسپورت ، داستوگنې خوندي ځای او نورخدمات برابروي . همداراز دغړیو لپاره دغونډې داسې خونه چې خپل کارونه پکې وڅیړي چمتوشوې ده.

**دحوت له لسمې څخه دحمل تر یوو لسمې پورې**
**(دمارچ له 1 تر 30 )**

دعامه پوهونې څانگه به دمطبوعاتو او د مدني ټولنې دکارکونکوپه مرسته دعامه پوهونې یو کمپاین په لاره اچوي چې خلک د عامه سلامشورو دپروسې لپاره چمتو شي. دارالانشا هڅه کوي چې دامکان تر بریده افغانان له دغې پروسې څخه خبرکړي .

* دمارچ دمیاشتې په لومړۍنیمایي کې دتسوید کمیسیون داساسي قانون لومړنۍمسوده چمتو کوي اوله دې سره یوځای به داسې یو راپور هم بشپړ کړي چې په هغه کې داساسي قانون عمده ټکې شرح شوي وي . دغه راپور به ډیر ژر په پښتو او دري ژبو تر ژباړلو وروسته دکمیسیون غړو ته وویشل شي .

* دځیړنو، گزارش ورکولو،او داسنادوډټولولوجرگه گۍبه په رارسیدلو نظرونو او وړاندیزونو تر غور او بحث وروسته دغه موادپه یوه دیټا بیس یا (معلوماتي بانک) کې خوندي کړي . همدارازبه دعامه سلامشورې له پروسې څخه هغه معلومات چې داپریل دمیاشتې تر نیمایې پورې رارسیږي تحلیل اوتجزیه کړي . له دې وروسته به ژباړونکې خپل کاري ظرفیت بیاوړی کړي چې ددغې پروسې قانوني ، حقوقي او تخنیکي اصطلاحات وژباړي او همدارازبه دعامه سلامشورې دپروسې لپاره دموادو په ژباړلو کې مرسته وکړي .

**دحمل له دولسمې د ثور تر لسمې**
**( داپریل له اوله تر 30 پورې )**

* دکمیسیون دغړیو دټاکلو پروسه ترسره کیږي .اوداداړ ترلاسه کیږي چې کمیسیون دامکان ترحده یو نماینده ارگان دی . او یوتن درئیس په توگه ټاکل کیږي .

*دلویې جرگې دجوړیدو په اړه دیوفرمان صادریدل . او ددغې جرگې دجوړیدو دڅرنگوالي لپاره دطرزالعمل دجوړلو لپاره چمتووالی.

* داساسي قانون دكميسيون غړي به لوړه كوي ،پراصولو ،طرز العملونو ،دكارپه موده او داساسی قانون په منځپانګې به توافق ته رسيږي . كميسيون به داساسي قانو ن لومړنی‌مسوده ، دتسويد دكميسيون له خوا جوړشوی راپور اوداساسي قانون دكارپوهانو له خوا دكليدي مسايلو په اړه جوړشوي اسناد ګوري او ځان به پرې خبروي .

* دارالانشاء به دمطبوعاتو دڅارنې داسی يوه څانګه جوړه كړي چې دكميسيون له رئيس او وياند سره دخپرونو په برخه كې مرسته وكړي.

* دارالانشاء به دخپلو سيمه ييزو كاركونكو دټاكنې كار چې دعامه سلامشورې له پروسې سره مرسته كوي ، بشپړ كړي . سيمه ييز كاركونكي به تر روزنې وروسته اړوندو سيمو ته ستانه شي چې د عامه سلامشورو دپروسې دپيل كولو لپاره خپل دفترونه پرانيزي .

* دارالانشأ دعامه پوهونې دپروسې ستراتيژي ، پاليسۍ او مواد بشپړ كړي .

* دارالانشابه د مطبوعاتو، دمدني ټولنې كاركونكو ،او نادولتي موسسوپه مرسته دعامه پوهونې كمپاين په لاره واچوي.
* دعامه سلامشورې په پروسه كې دتدوين لپاره دكميسيون دغړيو اوددارالانشاء دكاركوونكو چمتو والی لپاره به كاري وركشاپونه جوړشي.

**دټوړ دلسمی نيټی څخه دسرطان تر لسمه پورې**
**(مې له اوله دجون تر پايه پورې)**

* د افغانستان په ټولو سيمو او ولايتونو ، په ايران او پاكستان او دامكان په صورت كی به په نورو هيوادنوو كې دميشتو افغانانولپاره دعامه سلامشورې بهير عملي شي.

* راپورتران به دعامه سلامشوري له بهیر څخه بشپړ رپوټونه جوړ او بیا به یې ټولومشوره کونکو ډلو ته وویشي هغوی به په دې ډاډه کړي چې نظریات او غوښتنې ټول ثبت شوي دي. دغونډې جریانونه به دغږ ثبتونکي ټیپ په وسیله ثبت شي خو ویډیویی ثبت یې دخوندیتوب ددلایلو له مخې نه ترسره کیږي .

* دعامه سلا مشوروپروسه دجون دمیاشتې په پای کې بشپړیږي .

**رسرطان دلسمې نه دسنبلې ترلسمې پورې – (دجولای له لومړی‌نیټې څخه داگست تر 30 پورې )**

* کمیسیون دعامه سلامشورو له پروسې څخه ترلاسه شویو نظر ونو څخه جوړ شوی رپوټ بشپړوي .

* دکمیسیون بیلابیلی کاري کمیټې خپلې سپارښتنې چې دعامه سلامشورو له جریان څخه ترلاسه کړی بشپړوی او دکمیسیون عمومي غونډې ته یې وړاندې کوي .
* دکمیسیون عمومي غونډه داساسي قانون دمسودې او دهغې په اړه دیوه راپور په جوړولو سره سلاکیږي.
* مسوده به په داوړو ملي ژبو تهیه اووویشل شي .
* دمسودې داسې لنډیزبه جوړکړای شي چې دمسودې عمومي بنه تشریح کړي او دحکومت دجوړښت څرنگوالی دساده اصطلاحاتو په مرسته انځور اوتشریح شي.

## سنبله او میزان- (سپتمبر)

* کمیسیون او دعامه پوهونې کارکونکي به دهیوادولایتونو ، ایران او پاکستان ته سفرونه وکړي چې خلک په مسوده وپوهوي همدارز په دې لاره کې به له مطبوعاتو څخه ګټه واخیستل شي .
* داساسي قانون دلویې جرګې جوړولولپاره دترتیباتودنیولو بشپړتیا.
* د 4 یا 5 ورځولپاره به داسې یو پروګرام جوړشي چې دهغه په ترڅ کې دلویې جرګې غړي وکړای شي یو له بل سره همدارز دجرګې دکاري بهیراو مسودې سره اشناشي.

## میزان او عقرب – (اکتوبر)

* داساسي قانون لویه جرګه به داساسي قانون دتصویب لپاره جوړه شي .

## دعقرب دلسمې نیټې څخه دجدي تر لسمې
## نوامبر او دسمبر

*ددارالانشاء اساسي کارکونکي به دتصویب شوي اساسي قانون په هکله دخلکو دخبرونې په کمپاین کې برخه واخلي.